بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيمِ
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۱۲ جون ۲۰۱۳ ميلادی

# هيـروشـيما ، اتمي بمب

په جاپان باندي اتمي بم غورځول ، متحيدينو مينځ کی پلويان د امريکي د ريس جمهور ترومن امر ، پيدا نه کړل ، او دا تصميم او امر غلط وګڼل شوو.

د اګست 6 مه د 1945 ميلادی ـ کال، سباي دهيروشيما ښار چه ۲۵۰ زره ګاونديانی درلودل ، لکه هر کله له کېګونو او هياهو نه ډک وه .
ولی ؛ ماښام په ماتم او قبرستان بدل شو . په هغه ورځ د شلم هوای کندک او د ۵۰۹ ګروپ لويه بم آچونکی طياره « بی ـ ۲۹ » د اينو لويه په نامه ، له آرامه اقيانوسه جيګه او جاپان خواته والوته .

دی آلوتنکی لومړی ځل په نړی کی ځلور ټنه اتمی بم چه د ه ځان سره درلود. دی طياری پل چه د ښار مينځ کی وه ، نيولی وه .
دا ښار دهوای بمباريو شل زرو بمو برابر، هومره خراب شوی نه وه ، توکيو او اوساکو ډير سخت ړنګ شوی وه، له همدی کبله دښار اوسيدونکی فکر کاوه چه دښمنان نه غواړی ښار ويجاړ کړی ، ځکه چه هغوی پدی ښار کی خپلی نظامی پايګاه جوړوی .
له همدی کبله د اخطاريه کاغذونه چه امريکای آلوتکی په ښار خپاره کړل ، ښاريان يی ونه ډارول . پدی کاغذو کی داسی ليکل شوی وه .
« که جاپان تسليم نه شی ، دا ښار به له مينځه لاړ شی . » .

د سبای ۸ بجی شپاړس دقيقی اينوله اتمی بم يی په ښار وغورځاوه ، بم ۵۲۰ متره جيګه له ځمکی او ۲۷۰ متره لری له هدفه وچاوده . د توپ په شان د اور لويه لمبه مينځ ته راغله چه قطر ۵۴ متر او روښنای يی له زرو لمريزو اشعاعو نه ډير وه .

کورونه دآبادیګانی خلک ددی اور لاندی ویلی کیدل . دآسمان رنګ زیر شوو، او له ځمکی ډیره لویه سمارقی وریځه جیګه شوه .
دښار ژوندی اوسیدونکی بربڼ هک پک لکه پیریان لا لحنده په ښار کی ګرځیدل . پس له دری ورځو د ناګاساکی ښار هم دا بڼه ځانته ونیوله ، او د سپتیمبر دوهمه جاپان خپله بی له قیده او شرطه تسلیمی اعلانه وکړ .

ددی بم غورځول فیصله او تصمیم « ګاری ترومن » کړی وه . کله چه جاپانیانو اعلان وکړ چه هیڅکله د تسلیمی بیرق به جیګ نکړی . ترومن په ځواب کی داسی اعلان وکړ .
« که دوی زمونږ امرونه او تقاضاوی ونه منی، پدوی به د اور داسی سیلاونه راشی ، چه ځمکه تر اوسه شاهده نه وی » .

ترومن تر آخره پدی عقیدی وه چه دا امر او تصمیم ، بر حق دی !!!
هو؛ کیدای شی ده د خپل پوځ او عساکرو د وژلو مخنیوی وکړی . ځکه چه د جاپان د جزایرو ژوبله واوښته. ځکه چه په نیولو کي به دیو میلیون شاه و خواه کي امریکایانواو متحیدینو به مرګ د جاپان رزمي او روحي قدرت له مینځه نه وه تلی . هو ؛ امریکا وګټه ، خو د جهان خلکو ته معلوم شوه چه امریکایانو ته د بل چا ژوند او رنځ ارزښت نه لری، یواځینی ارزښت د امریکا، هوساینه او آرامی ده .

په ۱۹۴۶ میلادی ـ کال کی یو دولتی کمیسیون جوړ کړ چه د دی بمباری ارزښت په هر حال امریکا په جنګ کی وڅیری . د دی کمیسیون د څیرینی نتیجه داده ، چه اتمی حملی ته هیڅ ضرورت نه وه .
« کمیسیون په دی نظر وه چه جاپان په ۳۱ د دسمبر ۱۹۴۵ میلادی کال کی حاضر شو چه خپله تسلیمی اعلان کړی... » .

په ۱۹۴۵ میلادی ـ کال ، د جون شلمه د جاپان امپراطور هیراهیتو اعلان وکړ چه جاپان تسلیمی ته حاظر دی . د دی کمیسیون یو غړی د جان کینت هالبرت په نامه داسی وای :
« د جاپان دا اعلان چه امپراطور د خپل د نظامی هئیت په غونډه کی وکړه ، د دولتی بیروکراسی له امله برملا نه شوه . »
دا پدی معنی ؛ چه بیروکراسی هغه وخت ، د سلهاو زرو ژوند واخیست .

*****

محب الرحمن « خطیبی »

بازګشت به صفحه اصلی –www.said-afghani.org